# د بیړنۍ پېښو مرکز – زمونږ مرستې ته اړتیا لرئ؟

**په خپل کور کې خوندي نه یاست؟**
له بده مرغه ګڼ شمیر ښځې، سړي او کوچنیان دا سې دي چې په خپل کورونو کې د تیري، او برید سره مخامخ شوي دي. په ناروی [Norway] کې مونږ دې ته ' په نږدې خپلولۍ کې تیرۍ' وایو. دا په دې معنا، چې داسې یو تن چې تاسو ته نږدې دی، د بیلګې په توګه، ښځه یا خاوند، مور او پلار، ورونړه یا خپل ماشوم چې تاسو د تیري/ برید سره مخامخ کوي.

**د تیري / برید ډیر ډولونه دي:**

- **جسماني** (وهل، لغته ورکول،د ویښتو څخه راکاږل، راپړزول)
- **روحیاتي** (ناوړه الفاظ ویل، ناوړه نوموبه ویل، قابو، جلا توب، تهدیدونه)
- **جنسي** (جنسي تیرۍ، په زور زنا کول)
- **مواد** (شیان خورځول، شیان ماتول، هغه شی خرابول چې تا ته ډیر د قدر وړ دی)
- **مالي** (ستا پیسې اخیستل، ستا پیسې تا له نه درکول، په تا په زور هغه مالي اسناد لاسلیک کول په کوم چې ته نه پوهیږې)
- **په زور واده کول** (ځوک ګواښل/ مجبورول چې د خپلې مرضۍ خلاف واده وکړي)
- **تناسلي غړی غوڅول** (ښځینه تناسلي غړی لرې کول)
- **انساني قاچاق** (د ښځو، سړو او ماشومانو قاچاق کول)

**تاسو د چا سره خبرې کول غواړئ؟**
د بیړنې پیښو د هغه مرکز سره تماس ونیسئ کوم چې درته نږدې دی. په ناروی کې ټولې ښځې، سړي او ماشومان په هغه وخت کې د بیړنې پیښو د مرکز څخه مرسته ترلاسه کولی شي کله چې هغوی تهدیدول کیږي یا د تیري سره مخامخ کول کیږي.

**په ناروی کې نوي یاست؟**
مونږ، یعنې هغه کسان چې د بیړنې پیښو په مرکزونو کې کار کوو، د نورو هیوادونو او نورو کلتورونو د ګڼ شمیر خلکو سره لیدنه کوو. **کله چې اړتیا وي، نو مونږ همیشه د ژباړونکې څخه په دې کې مرسته ترلاسه کوو.** زمونږ کارکوونکې په مسلکې توګه روزل شوي دي او د هغه کسانو سره په مرسته کولو کې ځانګړې مهارتونه لري کوم چې د تیري سره مخامخ وي. زمونږ مامورین به تاسو ته ستاسو د حقوقو، مسؤلیتونو او په ناروی کې د انتخابونو په اړه معلومات درکړي.

مونږ په مسلکې توګه د محرمتوب ساتنې لوړه کړي ده! ستاسو کیسه به زمونږ سره خوندي وي. تاسو چې مونږ ته څه اووایئ، مونږ هغه په ډاګه کوو نه، پرته له هغې چې مونږ په ګډه په دې موافق شو او یا په دې لړ کې د مخکې تللو لپاره او ستاسو د مرستې په توګه څو تاسو هغه مرسته ترلاسه کړئ، کوم ته چې اړتیا لرئ.

البته، که چیرې مونږ د داسې ماشومانو څخه خبر شو، له کومو کورنۍ وضعیتونه چې د منلو وړ نه وي، نو مونږ دا مسؤلیت لرو چې د ماشوم د خیر ښیګڼې ادارو ته راپور ورکړو. ترڅو، دغه ماشومان او د هغوی کورنۍ د ښه ژوند تیرولو لپاره هغه مرسته ترلاسه کړي، کوم ته چې اړتیا لري.

**مونږ ستاسو سره په لاندې شیانو کې مرسته کولی شو:**
مونږ تاسو او ستاسو ماشومانو له د څه وخت د اوسیدو لپاره خوندي ځای درکولی شو یا تاسو په کور کې د اوسیدو انتخاب کولی شئ او د بیړنۍ پیښې مرکز ته به یواځې هغه وخت راځئ چې د خپل وضعیت په اړه معلومات ورکړئ. د بیړنۍ پیښو په مرکز کې به تاسو د یو متخصص سره وګورئ او هغه به ستاسو خبره واوري. مونږ ستاسو سره مرسته کولی شو څو د ډاکټر، قانون پوه، پولیس، این ای وي [NAV]، د ماشوم ساتنې د ادارو او نورو اژانسونو سره تماس ونیسئ. مونږ به ستاسو سره مرسته وکړو او که تاسو غواړئ نو ستاسو سره به دغه مرکو ته لاړ شو او په یو خوندي وضعیت سره به دا ممکن وي. د بیړنۍ پیښې د مرکز څخه د تللو وروستو که تاسو اړتیا لرئ، نو مونږ ستاسو سره تماس نیولو ته دوام ورکولی شو.

زمونږ رول دا دی چې تاسو ته هغه معلومات، مرسته او لارښوونه درکړو کوم ته چې تاسو اړتیا لرئ څو درسره د تیري پرته په ښه او نوي ژوند تیرولو کې مرسته کومک وکړو.

PASHTO